# C برخه: د چرګ پالنې تنظیمول

## دوهم لوست: د چرګ پالنې د سامانونو تنظیم، او غذا یا خوراکه

# اصطلاحګاني :

- Grit        وړي ټګي
- Palatability دلچسپی

۱ . د ډوګـانو د مناسبې تغذې لپاره غذايي مواد يا غذايي عناصر برابر کړئ چې د
هغوي دنورمال نمو او ژوندانه لپاره ضروري او اړين وي.

A . د ډوګـانو په غذايي جيره کي شپږ نوعه موادو ته اړتيا ليدل کيږي،
پروتين،شحميات، شکري، معدني يا منرالي مواد،ويټامينونه او اوبهٔ.

B . د ډوګـانو په جيره انرژي اکثره د دانه بابو او شحمو پواسطه برابريږي.

۱ . چرګـان ددي توان نه لري چي زياته فائبر لرونکی خوراکه يا غذا په مصرف
ورسوي.

۲ . د ډوګـانو جيري بايد تقريباً له ۵۰-۸۰ فيصدو پوري دانه باب تشکيل کړي.

C . هرکله چي د هغوي په جيره کي دانه باب استعماليږي بايد ميده شوي وي .

۱ . جوار بايد په دليدلی شکل سره ميده شوي وي.

۲ . جودر ، ( وربشي) او Millet ( ) په نازکه‌ټګـه ميده شوي وي.

۳ . غنم بايد د ژرندې( roller ) پواسطه پروسس شوي وي .

D . په غذا یا خوراکه کي باید چي شحم له ۱۰ فیصدو نه زیات نه وي.

۱ . شحم په زیاتي اندازې سره د هضم قابلیت، زیاته مزه، د جیري خاوره اوګرد کموي او د غذا ترکیب اصلاح کوي.

۲ . هغه جیره چي د شحم لرونکي وي په ګرمه هوا کي په تیزۍ سره ورستیږي پرته له دي چي په کیمیاوي ډول اصلاح شوي وي.

E . پروتینونه هغه ضروري امینواسیدونه چې د چرګانو لپاره په خوراکه کې اړین دي تهیه او برابروي.

١ . ډیر عام امینو اسیدونه کومو ته اړتیا لیدل کیږي عبارت دي له ارجنین،لایسین، میتیو نین، او تریپتوپان څخه.

٢ . د پروتین عمده زیرمي د الوتونکو په جیره کې له سایوبین، غوښي، د غوښي پاتي شونو او کب له پوډرو نه په لاس راځي.

F . اوبه یو ډیر مهم عنصر دی چي د الوتونکو د بدنه لویه برخه تشکیلوي.

۱ . د چرګ عمر د اوبو مصرف تعینوي.

A .د برایلر یا غوښینو ۱۰۰۰ قطعي چرګانو مصرف په یوه ورځ کي په حدود د ۲۰ لیترو د یوي اونۍ په عمر کي وي او ۳۸۰ لیتره په اتمه اونۍ عمر کي اړیني دي.

B . هګۍ ورکوني نوعي چي هګۍ ورکولو ته نژدې وي ۱۰۰۰ قطعي په یوه میاشتني عمر کي ۲۰ لیترو اوبو او ۲۰ میاشتني عمر کي ۱۷۰ لیتره اوبو ته اړتیا لري.

C . په نسلي او هګۍ ورکونکو ۱۰۰۰ قطعي چرګانو کي په یوه ورځ کي ۱۸۹ لیتره اوبه په مصرف رسوي

۲ . د تودوخې د درجې لوړوالی هم د اوبو مصرف زیاتوي.

A . چرګان پېګرمو ورځو کي نسبت یخو ورځو ته دري چنده زیاتي اوبه په مصرف رسوي

G . اکثره غذايي جيره د منرالونو يا معدني موادو پواسطه عوض کيږي .

۱ . د چرګانو په برخه کي منرالي موادو ته اړتيا شامله ده په کلسيم، فاسفورس، مګنيز، ايودين، سوديم، کلورين او زنک څخه.

۲ . داسي سپارښتنه کيږي چي هګۍ ورکونکي چرګانو په خپله جيره کي بايد ۳،٤ فيصده کلسيم ولري .

A . د هګۍ ورکونکو چرګانو په برخه کي کلسيم ډير مهم رول لري، دا ځکه چي د هغې شتوالی د هګۍ د پوستکی د جوړښت لپاره ضروري دی .

H . نور ترکیبات لکه وړي تيګـي په غذا کي علاوه کيږي ترڅو له سګـدان سره په ميده کولو کي مرسته وکړي له دي کبله چي چرګـان غاښونه نه لري.

۱ . وړي په وړو اندازو، منځنيو، او لويو اندازو سره تهيه کيدلی شي.

۲ . د هغې کوچنۍ اندازه چوګـوړو ته اوغټي اندازې يي ځـۍ ورکونکو چرګـانو ته ورکول کيږي.

B . وړي تيګـي ځوانو چوګـوړو ته په اونۍ کي دوه ځلی په غذا باندې په شيندلی شکل سره ورکول کيږي.



١١ . د چرګانو غذايي جيره د هغي لګښت او د هغې په نوعي او عمر سره اړيکه لري .

A . د فيل مرغانو تغذيه کول

١ . Poults (ځوان فيل مرغان) له هګۍ نه د راتو وروسته بايد په ډيرۍ تيزۍ هغوي ته اوبه او خوراکه ورکول شي .

A .که چيري له ٣٦ ساعتونو څخه په زياتي اندازې سره اوبه او او خوراکه معطل کړل شي په دي صورت کي ځوان چوڼګوړي د غذا خوړلو په برخه کي له ستونزو سره مخامخ کيدلی شي.

B . د ځوانو چوړګوړو لپاره سټارټر Starter جیره ( د چوړګوړو لپاره لومړنۍ جیره) چي د ۲۸ فیصدو پروتین لرونکی وي د یوي اونۍ لپاره تر استفادې لاندې نیول کیږي .

C . د ٤ نه تر ٦ اونۍ عمر پوري سټارټر Starter جیره( د چوړګوړو لومړنۍ جیره) دي ورکول شي چي د ۲٦ فیصدو پروتین او لوړي سطحې انرژۍ لرونکي وي .

D . د ۱۰۰۰ قطعو چوړګوړو لپاره په هره ورځ کي د اوبو مصرف د عمر په یوه اونۍ کي ۳۸ لیتره او د ۸ اونۍ په عمر کي ۳٦۰ لیتره دي.

هغه فیل مرغان چي د نمو په حال کي دي د لسمې اونۍ په عمر کي کروندې ته وړل کيږي.

A . کرونده باید چي هم علوفه او هم دانه باب ولري.

B . هغه فیل مرغان چي د نمو په حال کي دي باید د جنس په اساس سره جلا کړل شي دا ځکه چي د هغې نر په زیاتي اندازې سره پروتین ته اړتیا لري.

C . که چیري فیل مرغانو ته کامله مخلوط شوي غذا ورکول شي په دي صورت کيښه وزن اخلي.

۱ . نر فيل مرغ د ۸-۱۲ اونۍ په عمر کي اوښځينه فيل مرغ د ۸-۱۱ اونۍ په عمر کي بايد ورته هغه جيره ورکول شي چي د ۲۲ فيصدو پروتين لرونکي وي

۱۱ . د نر فيل مرغ لپاره د ۱۲-۱٦ اونيو په عمر کي اوښځينه فيل مرغې لپاره د ۱۱-۱٤ اونۍ په عمر کي ورکونکی جيره بايد د ۱۹ فيصدو پروتين لرونکي وي.

۱۱۱ . د نر فيل مرغ لپاره د ۱٦-۲۰ اونۍ په عمر کي او د ښځينه فيل مرغې لپاره د ۱٤-۱۷ اونۍ عمر کي بايد ورکونکی جيره د ۱٦،٥ فيصده پروتين لرونکي وي

- ۱۱۱۱ . د نر فيل مرغ لپاره چي د ۲۰-۲٤ اونۍ عمر ولري اوښځينه فيل مرغ چي د ۱۷-۲۰ اونۍ په عمر كي وركونكي جيره بايد د ۱٤ فيصدو پروتين لرونكي وي.
- نر فيل مرغ په مجموع كي د ۲٤ اونۍ په عمر كي اوښځينه فيل مرغ په ۲۰ اونۍ عمر كي حاصل ته رسيږي.

D . د ۱۰۰۰ قطعو فیل مرغانو د هري ورځـي د اوبو مصرف ٤۳٥ لیتره اوبه د ۹ اونی په عمر او ۷٥۷ لیتره د ۲۰ اونی په عمر کي اړیني بلل کیږي.

٣ . د نسل اخستني فيل مرغ بايد د ١٦ اونۍ په عمر کي د نسليګـلې لپاره انتخاب کړل شي

A . ښځينه نسلي فيل مرغ د ١٦-٣٠ اونيو په عمر او نر فيل د ١٦-٢٦ اونيو په عمر کي ١٢ فيصده غذايي رژيم اخلي .

B . له دي نه وروسته ١٤ فيصده ورکول کيږي.

C . د نرانو فيل مرغانو لپاره د ٢٦ اونۍ په عمر کي د نسل اخستنې جيره ورکول کيږي چي دا د هغې وزن کنترولوي په داسې حال ميښځينه جنس هرڅومره چي خوړلی يي شي ورکول کيږي.

مرغاوۍ او قاز په ورته ټوګه غذا ته اړتیا او ضرورت لري.

A . د دوه لومړنیو اونیو لپاره چي ستاړتر جیره کومه چي د ۲۲ فیصدو پروتین لرونکي وي پیل کیږي اوټول شرایط ورته مساعد کیږي ترڅو هغوي یي وخوړلی شي.

١ . قازونو ته دي اجازه ورکول شي چي وروسته له دي چي هغوي دوه اونيو عمر ته ورسيږي د ورځي په جريان کي په څڼ ځای کي و ګـرځول شـي.

A . د قازونو لپاره د هغوي په غذا يا خوراکه کي وړي تيګـي کومي چي د حل کيدو قابليت ونه لري علاوه کيږي .

B . هرکله چي د قازونو عمر اوس هم څو ورځي وي نو د علوفي په خوړلو پيل کوي او هرکله چي د هغوي عمر پنځه يا شپږو کالو ته ورسيږي خپلټول ضروريات له څړځآی څخه پوره کولی شي.

١ . هر کله چي دا کار سرته رسيږي نو د نمو ورکونکی جيري سپارښتنه او توصيه کيږي.

C . که چيري څړ ځآی دښه کيفيت لرونکي نه وي په دي صورت کي بايد چي په تغذيه کي دانه باب علاوه کړل شي.

2. هر کله چي قازونو ته د ځړ ځای اجازه ورکول شي د هغوي لپاره دانه باب د دوه نه دریو ځخه تر ۱۸ اونۍ عمر پوري ترڅو چي حاصل ورکول ته ورسیږي، ورکول کیږي.

B . مرغاوى کولى شي چي په کمل احاطه شوى ځاى او يا هم په نمو کونکو مرغانچو کي وپالل شي.

١ . د مرغاوى لپاره د لامبو او لوبو کولو لپاره اوبه برابرى کړى شي ترڅو په هغې کي تمرين وکړي.

٢ . ستوباتر غذايي رژيم کوم چي د ٢٢ فيصدو پروتين لرونکي وي د دوه اونيو لپاره ورکول کيږي.

٣ . ستوباتر غذايي رژيم نه وروسته هغوي ته هغه غذايي رژيم پيل کيږي چي ١٨ فيصده پروتين ولري چي د اخري غذايي رژيم په نامه ياديږي چي ١٦ فيصده پروتين په هغې کي شامل وي، تغذيه کيږي.

٤ . مرغاوی اکثره د ۷-۸ اونیو په عمر کي
مارکيټ ته اماده کيږي .

٥ . مرغاوی کولی شي چي له شنو ځلګانو څخه
استفاده وکړي لیکن نه د قازونو په اندازې سره .

٦ . د مرغاوی لپاره څړځای یا ورشو ضروري
نه ده .

C . د دواړو مرغاوی او قازونو لپاره باید چي تازه اوبه تهیه کړی شي او هغوي هر وخت باید هغې ته لاسرسی ولري.

١ . مرغاوی او قاز زیاتي اوبه په مصرف رسوي.

٢ . د اوبو ځآی د هغې لپاره داسې ډیزاین کیږي چي مرغاوی او قاز په هغې کي لامبو ونه شی کړی. له زده کونکو نه غوښتنه وکړئ چي د قاز او مرغاوی د تغذي په تنظیم کي د اختلافاتو او ورتوالو یو لست واخلي. د هغوي ځوابونه په یوه چارټ یا جدول کي په تخته باندې ولیکئ.

هغه سامانونه چي په الوتونکو کي د غذا، اوبو او ارام محیط د برابرولو لپاره ورنه استفاده کیږي ډیر ضروري دي او د الوتونکو تولیدات زیاتوي .

A . پاکې اوبه باید چي د تل لپاره برابري شوي وي.

١ . د یوي ورېږګـلې لپاره غوره دي چي اتومات د اوبو لوښي په یخه ساحه د پنجرې کي کښېودل کیږي.

A .اتومات د اوبو لوښي د څېرګـلې لپارهښه کار کوي او د وخت له ضایع کیدلو نه په کوم کي چي چرګـانو ته اوبه ورکول کیږي، مخنیوی صورت نیسي.

٢ . که چیري غیري اتومات د اوبو لوښو نه استفاده صورت نیسي په دي صورت کي د اوبو د لوښو شمیر د بیا ځل لپاره دکیږي چي دا کار باید په نظر کي ونیول شي.

٣ . د اوبو د لوښو نوعیت همدارګـه د چرګـانو د نوعي او تغذې پوري اړه لري.

A . مرغاوۍ او قازونه دي ته میلان لري چي د اوبو په لوښو کي لامبو وکړي په دي لحاظ د هغوي لپاره داسې د اوبو لوښي تهیه کیږي چي د هغوي د لامبو نه مخنیوی وکړي.

د چرګ پالنې معمولي یا عادې د
اوبو لوښی






د چرګ پالنې اتومات د اوبو لوښی

B . د الوتونکو ډبولو نوعو لپاره مرغانچې عمومیت لري.

۱ . مرغانچې باید چې په اسانۍ سره پاکې او ضد عفوني کړل شي.

۲ . ټولي مرغانچې باید په کافي انازې سره د هوا جریان تهیه کړي ترڅو له اضافي لمدوالی نه مخنیوی رامنځته شي.

۳ . د وړو چوګوړو لپاره یوګروپ یا هم ګرمولو نوري الي ضروري دي ترڅو چې د هګوي لپاره تودوخه برابره کړي او هګوي له یخنۍ نه وساتي.

C . د کاروبار د پراخوالی د اندازې له نظره د چرګ پالنې د اوبو او خوراکې اتوماتیک لوښي باید شتون ولري.

١ . دا باید په منظمه توګه پاک وساتل شي.

٢ . د وړوکو لپاره باید د انتقال وړ د اوبو او خوراکي لوښي استعمال کړل شي.









































# لنډيز \ بياكتنه

١ . د چرګانو لپاره د غذا يا خوراکې جيره

٢ . د فيل مرغانو لپاره د جيرو تنظيمول

٣ . د مرغاوى او قازونو لپاره د جيرو تنظيمول

٤ . هغه سامانونه چي د چرګ پالنې د تنظيم په خاطر ورڅخه استفاده صورت نيسي.